هفته واره رساله

د امیرِ اهلسنّت دامت برکاتہم العالیہ په ربیع الاوّل 1445 هجري کښې
د مدني مذاکرو نه مختلفو د شوو مختلفو بیانونو تحریري ګلدسته

# د آخري نبي شان
# پهٔ ژبه د قرآن



- صحابه کرام رضی اللہ عنہم او محفلِ میلاد
- د حضورِ مصطفیٰ ﷺ د تشریف راوړلو یو خاص برکت
- میلاد شریف بیانول د الله پاک سُنّت دي
- آیا یواځې حضور ﷺ رَحمةٌ لِلْعٰلَمِين دے؟


شیخِ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال
محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دامت برکاتہم العالیہ



پیشکش:
المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)
Islamic Research Center

## ورومبے دا ولولۍ

د الله پاک ښکلے ښکلے کلام قرآنِ کریم پهٔ اصل کښې د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوره پوره نعت دے- پهٔ قرآنِ کریم کښې ځائے پهٔ ځائے د نبيِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان او عظمت، فضائل او کمالونه او معجزې بیان شوې دي- علمائے کرامو پهٔ دې موضوع باندې ډیر کتابونه لیکلي دي-

د عاشقانِ رسول دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي پهٔ عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه کښې به پهٔ کال 1445 هجری ربیعُ الاوّل شریف کښې روزانه پهٔ کیدونکو مَدَني مذاکرو کښې امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علامه مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بیان فرمائیلو د کومو موضوع چې به "**د آخري نبي شان په ژبه دقرآن**" وه- یعنې د قرآني آیتونو نه به د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فضائل او کمالونه مبارک بیانولے شول-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! المدینة العلمیه (اِسلامک ریسرچ سینټر) شعبے د "هفته وار رساله مطالعه" اِسلامي ورونړو پهٔ مرسته د امیرِ اهلِسُنَّت د هُغه بیانونو مجموعه پهٔ نوم "**دآخري نبي شان په ژبه د قرآن**" د رسالے پهٔ شکل کښې پیش کولے شي- دا پخپله هم ولولۍ او د نیکۍ د دعوت عام کولو د پاره یې نورو له هم ورکړئ- د مُبَلِّغینو د پاره دا یو مکمل بیان دے- الله کریم دې دا پهٔ خپله بارګاه کښې قبول کړي او دا دې زمونږ د پاره د بے حسابه نجات ذریعه جوړه کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د پنجابی یو شاعِر څهٔ ښه وئیلي دي:

دَساں کی میں مصطفےٰ دی کڈی سوہنی شان اے | آپ دی تعریف وِچ سارا ہی قرآن اے
پڑھ کے تو ویکھ جیڑا مرضی سپارہ | قسم خدا دی مینوں سب نالوں پیارا

وَالسَّلام مَعَ الاِکْرام

**طالبِ دعائے غمِ مدینه و بقیع و بے حساب مغفرت ابو محمد طاهر عطاري مَدَني عفی عنه**

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

## د آخري نبي شان په ژبه د قرآن

**دُعائے عطّار:** یا الله کریمه! څوک چې دا رساله "د آخري نبي شان په ژبه د" ولولي یا واوري، هغهٔ سره د مور او پلار ه بے حسابه اوبخښې او په جنّتُ الفردوس کښې ورته د خپل خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصیب کړې۔

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

حضرت مولانا شاه محمد رُکنُ الدِّین رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه لیکي: که څوک د ربیعُ الاوّل شریف په مبارکه میاشت کښې دا دُرُود شریف "اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللهِ" یو لاکه 25 زره کرته ولولي نو د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیارت به ورته عطا کولے شي۔ (رکنِ دین، 164/1)

اے عرب کے تاجدار، اَہۡلًا وَّسَہۡلًا مَرۡحَبَا — اے رسولِ ذی وقار، اَہۡلًا وَّسَہۡلًا مَرۡحَبَا

جلوہ کر دے آشکار، اَہۡلًا وَّسَہۡلًا مَرۡحَبَا — ہو فدا عطارِ زار، اَہۡلًا وَّسَہۡلًا مَرۡحَبَا

(وسائل بخشش، ص 149، 151)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## قرآنِ کریم او نبيِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**اے د میلاد عاشقانو!** د الله پاک چې څومره هم شُکر ادا کړے شي هغه همره به کم وي چې هغهٔ مونږ ګنهګاران د خپل خوږ آخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت کښې پیدا کړو او کرم څومره لوئي دے چې مونږ ته دا نعمت بغیر د غوښتلو میلاؤ شوے دے، مونږ د الله پاک شُکر ادا کوو۔ بیا د کرم د پاسه کرم دا وشو چې د خپل محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ثنا خواني (یعني نعت شریف لوستل) او د هغوئي شان بیانول، د

ولادت جشن کول زمونږ د قِسمت برخه جوړه شوه- مونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه وايو، اورو او فضائل بيانوو- پۀ خدائے مې دې قَسم وي چې دا د قِسمت والؤ حصه ده د هر چا دا نۀ نصيب کيږي- چا شاعر وئيلي دي:

میرے آقا کی مدح سرائی — اہلِ سنّت کے حصّے میں آئی
بگڑی آقا نے سب کی بنائی — ہم بھی قسمت جگائے ہوئے ہیں

يو بَل شاعر هم وئيلي دي:

خُدا اہلِ سنّت کو آباد رکھے — محمد کا میلاد ہوتا رہے گا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ټولو نه لوئے نعمت

اے د میلادِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د الله پاک خوږ آخري نبي، مکّي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک د ټولو نه لوئے نعمت دے- حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ مونږ باندې د الله پاک احسان دے- حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پر نُور دے، هغوئي پړقوونکے نمر دے- چې د رَبِّ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د داسې عظمت او شان والا رحمت او نعمت راتلل وي نو بيا به مونږ پۀ دې بے بها نعمت باندې خوشحالي ولې نه کوو- آيا زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زيات هم د الله پاک څۀ رحمت شته؟ او د الله پاک پۀ رحمت باندې د خوشحالۍ کولو حکم قرآنِ کريم کوي، وګورئ! پۀ مقدّس قرآنِ پاک کښې صفا صفا اِعلان دے: الله پاک پۀ 11 سيپاره، سورۀ يونس، آيت نمبر: 58 کښې ارشاد فرمائي:

﴿قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَ بِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ۝۵۸﴾

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: [1] :"تۀ وفرمايه: د الله پۀ فضل او د هغۀ پۀ رحمت باندې خوشحالي کول پکار دي، دا د هغې نه بهتر دي څۀ چې هغوئي جمع کوي-"

---

1 ...پۀ دې رساله کښې د شاملو ټولو قرآني آيتونو ترجمه د "کنز العرفان" نه اخستے شوې ده-

حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د دې آيت مبارک لاندې فرمائي: بعضې علمائے کرامو وفرمائيل چې د الله پاک فضل حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے او د الله پاک رحمت قرآنِ کريم دے- رَبّ فرمائي: :﴿وَ كَانَ فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَيۡكَ عَظِيۡمًا﴾ ترجمه: " او په تا باندې د الله فضل ډير لوئے دے -" (پ5،النساء:113) او بعضو وفرمائيل: د الله پاک فضل قرآنِ کريم او رحمت حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے- رَبّ فرمائي: ﴿وَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِيۡنَ﴾

ترجمه: " او مونږه ته د ټولو جهانونو د پاره رحمت ليږلے يې -" (پ17،الانبياء:107)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نُور فرمائي: معلومه شوه چې د قرآنِ مجيد د نازليدو په مياشت يعني رَمَضَانُ الۡمُبَارَک کښې او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت په مياشت يعني ربيعُ الاوّل کښې خوشحالي کول عبادتونه کول بهتر دي ځکه چې د رَبّ په نعمت ميلاويدو باندې خوشحالي کول پکار دي او حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو د رَبّ ډير اعلیٰ نعمت دے، دا خوشحالي د رَبّ د نعمتونو شکريه ده- يعني دا خوشحالي کول د دُنيا د ټولو نعمتونو نه بهتره ده ځکه چې دا خوشحالي عبادت دے د کومې ثواب چې بے حسابه دے- (نور العرفان، ص342)

ہر کرم کی وَجہ یہ فضلِ عظیم — صدقہ ہیں سب نعمتیں اس فضل کا

فضل اور پھر وہ بھی ایسا شاندار — جس پہ سب اَفضال کا ہے خاتما

(ذوقِ نعت، ص313)

## د الله پاک ورځې

اے د ميلاد عاشقانو! الله پاک په 13 سيپاره، سورهٔ ابراهيم آيت نمبر: 5 کښې ارشاد فرمائي: ﴿وَذَكِّرۡهُمۡ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ﴾ ترجمه: " او هغوئي ته د الله ورځې وريادې کړه-"

صحابيِ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا، حضرت اُبَي بن کَعب رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡه او عظيم تابعي بُزرگ حضرت اِمامِ مُجاهِد او حضرت قتاده رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِمَا په دې آيت مبارک

کښې د موجودو ”اَیَّامِ اللّٰہ“ يعنې د الله پاک د ورځو تفسير ”نِعَمُ الله“ يعنې د الله پاک د نعمتونو سره کړے دے- (تفسير خازن، 3/75 ملتقطاً)

## حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رَبّ نعمت دے

يقيناً چې د الله پاک نعمتونه بے شميره دي، په دې بے شميره نعمتونو کښې يو نعمت د الله پاک د آخري نبي مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذات مبارک هم دے، د حديثِ پاک د ټولو نه په مشهور او قابلِ اعتماد کتاب صحيح بخاري شريف کښې دي: مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نِعـمَةُ اللّٰهِ يعنې مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک نعمت دے-

(بخاری، 3/11، حديث: 3977)

**اے د ميلاد عاشقانو!** مونږه ځومره خوش قِسمته يو چې الله پاک مونږ ته د خپل دي خوږ نعمت يعنې خوږ او آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کَرم لمن راعطا کړې ده او مونږ يـې د هغوئي په اُمَّت کښې پيدا کړي يو- د عاشقِ رسول زړهٔ خو وائي چې حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صرف نعمت نهٔ دے بلکې د الله پاک د ټولو نه لوئے نعمت دے، په خدائے مې دې قَسم وي چې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړل په مونږ باندې د الله پاک د ټولو نه لوئے نعمت دے، د دې نعمت په مقابله کښې بل هيڅ نعمت نشته-

## ميلاد شريف کول د قرآنِ پاک حُکم دے

**اے د ميلاد عاشقانو!** چې د مدينے سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک نعمت او د ټولو نه لوئے نعمت دے او په نعمت ميلاويدو باندې د خوشحالی حکم مونږ ته د قرآنِ کريم په 11 سيپاره، د سورهٔ يونس په آيت نمبر: 58 کښې راکړے شوے دے نو بيا چې د الله پاک آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په کومه ورځ باندې دُنيا ته تشريف راوړلو مونږ په هغه ورځ باندې خوشحالي ولې ونکړو- يو عاشقِ رسول به هم د دې نه انکار نه کوي، آيا سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعمت نهٔ دے؟ آيا د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړل نعمت نهٔ دے؟

په قرآنِ کريم کښې ارشاد دے: ﴿وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ﴾ ترجمه: " او د خپل رَبّ نعمت ډير ډير بيانوه-" (پ30، سورة الضحیٰ: 11)

چې الله پاک په خپل راکړے شوي د هر نعمت په شکرانه کښې د هغې نعمت د ذِکر کولو ارشاد فرمائي نو په دومره لوئے نعمت د کوم نعمت د لوئے والي چې تصور هم نشي کيدے د هغې نعمت ذِکر مونږ ولې ونکړو؟ اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږ خو ټول کال هم ذِکرِ خير کوو، هم ټول کال دلته ميلادونه کيږي، زمونږ هيڅ يو درس او بيان داسې نه وي په کوم کښې چې ذِکرِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه وي-

تم بھی کرکے اُن کا چرچا اپنے دِل چمکاؤ　　　　اونچے میں اونچا نبی کا جھنڈا گھر گھر میں لہراؤ

په دې خبره باندې په دنيائي مثال سره داسې ځان پوهه کړئ چې زمونږ کره کله ماشوم پيدا شي نو مونږ خوشحالي کوو، زمونږه زړۀ خوشحاله وي، خلق هم مبارکي راکوي، بيا يې هر کال سالګره ( Birthday) هم کوو- څوک هيڅ نه وائي چې دا ولې کوئ او شيطان ورته هم وسوسه نۀ وراچوي خو چې کله مونږ د خپل خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت خوشحالي کوو کوم چې مونږ په يو ښکلي لفظ "جشنِ ولادت" سره يادوو نو په دې باندې د بعضې خلقو په غوږونو کښې شيطان وائي چې دا د چرته نه ثابت دي، چا کړے دے، څۀ وشو، ځنګه وشول؟ ځکه په شيطاني وسوسو کښې راتلل نه دي پکار-

د ميلاد شريف په ثبوت باندې چې کوم آيتونه دي هغه اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په فتاویٰ رضويه جلد: 29، صفحه: 250 باندې د ليکلي او فرمائي: د الله کومه يوه ورځ د دې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظهور پر نُور (يعني د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت باسعادت، د هغوئي د پيدا کيدو) د ورځې نه لويه ده نو بے شکه قرآنِ کريم مونږ ته حکم کوي چې د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ولادت مبارک باندې خوشحالي کوئ- (فتاویٰ رضويه، 29/250)

## د خپل ولادت ورځ به يې پخپله نمانځله

تاسو ته معلومه ده چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر ګُل په ورځ خپله د ولادت ورځ نمانځله، داسې چې د هر ګُل په ورځ باندې به يې روژه نيوله، د هغوئي نه پوښتنه وکړے شوه چې تاسو د هر ګُل په ورځ روژه نيسی د دې څهٔ سبب دے؟ حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کوم اسباب ارشاد کړل په هغې کښې يې يو سبب دا هم ارشاد کړو چې: فِیْهِ وُلِدْتُّ- يعنې په دې ورځ باندې زهٔ پيدا شوم-

(مسلم، ص455، حدیث: 2750)

د ميلاد عاشقانو له هم پکار دي چې په دولسم ربيعُ الاوّل شريف د ولادت د جشن کولو سره سره د هر ګل شريف په ورځ باندې روژه هم نيسي او د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ياد دې نمانځي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د الله پاک لوئے احسان

الله پاک په 4 سيپاره، سورهٔ آلِ عمران آيت نمبر: 164 کښې ارشاد فرمائي:

لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ

ترجمه: "بے شکه الله په ايمان والؤ باندې لوئے احسان وکړو چې کله يې په هغوئي کښې يو رسول مبعُوث کړلو کوم چې د هُم هغوئي نه دے. هغهٔ د هغوئي په مخکښې د الله آيتونه تلاوت کوي او هغوئي پاکوي او هغوئي ته د کتاب او حِکمت تعليمورکوي-"

**اے د ميلاد عاشقانو!** مِنَّت عظيم نعمت ته وئيلے شي- (صراط الجنان، 87/2) د الله پاک دا لوئے احسان دے چې هغهٔ مونږ ته د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم لمن راعطا کړله، الله ربُّ العِزّت مونږ ته بے شماره نعمتونه راعطا کړي دي خو په يو نعمت باندې يې دا ارشاد اونه فرمائيلو چې ما دا نعمت در کړو او په تاسو باندې مې احسان وکړو خو

چې کله د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو نمبر راغلو نو اوئې فرمائيل: الله پاک پۀ مسلمانانو باندې ډير لوئے احسان وکړو چې هغوئي ته يې خپل د ټولو نه عظيم، د ټولو نه زيات عزت والا، د ټولو نه زيات عظمت والا رسول عطا کړلو- پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د سلام عرض کولو سره اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکي:

ربِّ اَعلیٰ کی نعمت پہ اعلیٰ درود | حق تعالیٰ کی مِنّت پہ لاکھوں سلام

(حدائق بخشش، ص298)

**شرح کلامِ رضا:** د دې شعر خُلاصه دا ده چې د عظمت والا الله ربُّ العِزّت لوئې نعمت يعنې د حضرت بي بي آمنه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د زړۀ ټوټه، بے مثله رسول، محبوبِ ربِّ ذو الجلال، نبيِ باکمال صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دې ډير دُرُود، ډير رحمتونه نازل شي ځکه چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک مِنَّت (يعنې لوئے احسان) دے او پۀ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دې پۀ لکونو سلامونه وي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## صحابۀ کرام عليهمُ الرّضوان او د ميلاد محفل

د بعضې خلقو له خوا داسې وسوسه اچولے کيږي چې آيا صحابۀ کرامو هم ميلاد کړے دے؟ د دې وسوسې ختمولو د پاره يو ډير ښکلے حديثِ پاک ولولئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! چې تاسو يې ولولئ نو شيطان به پۀ منډه، پۀ چغو پۀ ژړا نامُراده وتښتي- حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه فرمائي: حضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابۀ کرامو عليهمُ الرّضوان يو محفل ته تشريف راوړلو نو ارشاد يې وفرمائيلو: تاسو کوم يو څيز دلته کښينولي يئ؟ صحابۀ کرامو عليهمُ الرّضوان عرض وکړو: مونږ دلته ځکه ناست يو چې مونږ ته چې الله پاک د دِينِ اِسلام کوم دولت راعطا کړے دے او ستاسو د راليږلو سره يې پۀ مونږ باندې کوم احسان فرمائيلے دے پۀ هغې باندې د هغۀ ذِکر او شُکر ادا کړو نو د الله

پاک خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: پۀ الله پاک مو دې قَسم وي چې تاسو صرف دې د پاره ناست يئ؟ عرض يـې وکړو: پۀ الله پاک مو دې قَسم وي چې مونږ صرف دې د پاره ناست يو چې د دِينِ اِسلام پۀ دولت او ستاسو د تشريف راوړلو پۀ نعمت او د الله پاک پۀ هُغه احسان باندې د الله پاک شُکر ادا کړو نو د الله پاک خوږ آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: تاسو له قَسم زۀ دې د پاره نۀ درکووم چې زما پۀ تاسو باندې شک دے بلکې ما ته جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام راغلو او ما ته يـې خبر راکړو چې ستاسو پۀ دې عمل باندې الله پاک د فرښتو پۀ مخکښې پۀ تاسو باندې فخر فرمائي-(نسائی، ص861، حديث:5434)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هُغه ټولو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

تاسو ولوستل چې صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا څۀ کول؟ پۀ هدايتِ اِسلام او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو پۀ نعمتونو باندې يـې د الله پاک شُکر ادا کولو- مونږ چې کوم ميلاد کوو نو مونږ هم د الله پاک شُکر ادا کوو، د هغۀ د حبيب ذکرِ خير کوو، د قرآنِ پاک آيتونه لولو، دُرُود شريف لولو، حديثونه بيانوو، سُنَّت بيانوو، مونږ چې د ميلاد کوم محفلونه کوو پۀ هغې کښې هم دا کيږي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! عَلٰى ذٰلِک

مَعَاذَالله! که چرته پۀ ميلاد شريف کښې غير شرعي کار وي، ډهول باجے وي، مونږ چرې هم د دې تائيد نه کوو بلکې هغه رَد کوو-

جب تلک یہ چاند تارے جِھلِملاتے جائیں گے
تب تلک جشنِ وِلادت ہم مناتے جائیں گے

نور والا آیا ہے نور لے کر آیا ہے
سارے عالَم میں یہ دیکھو کیسا نور چھایا ہے

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت زمونږه پۀ کُټلې کښې شامل دے او د ربيعُ الاوّل د مياشت ليدلو سره نور هم تازه شي، پۀ دې مبارکه مياشت کښې رحمتونه راوريدل شروع شي، ذِهن جوړ کړئ چې دُنيا د يو ځائے نه بَل ځائے ته شي، زمونږ د زړونو نه به

چرې هم جشنِ ولادت او نه وځي بلكې زمونږه په ژبو باندې به نعتونه جاري كيږي او مونږ به خپلو نسلونو ته هم د دې ترغيب وركوو-

منانا جشنِ میلادُالنّبی ہر گزنہ چھوڑیں گے

جلوسِ پاک میں جانا کبھی ہر گزنہ چھوڑیں گے

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سرکار کی آمد | مرحبا | منٹھار کی آمد | مرحبا | مختار کی آمد | مرحبا |
| غمخوار کی آمد | مرحبا | تاجدار کی آمد | مرحبا | شہِ ابرار کی آمد | مرحبا |
| آقا کی آمد | مرحبا | سردار کی آمد | مرحبا | آقائے عطّار کی آمد | مرحبا |
| مرحبا یا مصطفےٰ | | مرحبا یا مصطفےٰ | | مرحبا یا مصطفےٰ | |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو يو خاص بركت

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو يو خاص بركت دے، د قرآنِ كريم په خِدمت كښې عرض كوو چې اے د الله پاک ربنتوني كلامه هم تهٔ مونږ ته ارشاد وفرمايه چې زمونږ د محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو خاص بركت څهٔ دے؟ پهٔ 9 سيپاره سورة الانفال، آيت نمبر: 33 كښې الله پاک ارشاد فرمائي: ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ﴾ ترجمه: " او د الله دا شان نه دے چې هغوئي ته عذاب وركړي تر څو پورې چې اے حبيبه! تهٔ پهٔ هغوئي كښې تشريف فرما يې-"

پهٔ خدائے مې دې قسم وي چې دا ډير لوئے بركت دے، زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ظاهري طور باندې دُنيا ته د تشريف راوړلو نه مخكښې پوره قومونه د نافرمانو له وجهې تباه شول، څوک پهٔ درياب كښې غرق كړے شول، څوک پهٔ زمكه دننه كړے شول، پهٔ چا باندې د اسمان نه د كاڼو باران وشو، افسوس چې كه نن د ګناهونو خبره وكړے شي نو د كُفر او شرک نه علاوه تقريباً ټول ګناهونه پهٔ مونږ كښې دي بيا هم

زمکه مونږ ګرځيدو ته پريږدي، اسمان پهٔ مونږ باندې نه راغورځيږي، کاڼي نهٔ راوريږي، ټول پهٔ شريکه د ډوبيدو سره نه هلاک کيږو دا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مونږ کښې د تشريف فرما کيدلو دليل دے چې سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مونږ کښې تشريف فرما دے ځکه ټول نه هلاک کيږو- د الله پاک د رحمت څومره ښکلے شان دے!

د دې آيت مبارک د لاندې حضرت علّامه مولانا مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې آيت مبارک نه يو څو فائدې حاصلې شوې-

**وړومبۍ فائده**: "اَنْتَ فِيْهِمْ" يعني تاسو پهٔ دوئي کښې تشريف فرما يۍ چې حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د دُنيا د پاره رحمت، د الله اَمان (يعني پناه) ده چې د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پهٔ وجه پهٔ دُنيا کښې د الله پاک عام عذابونه نهٔ راځي- نُور فرمائي: وګورئ چې د کومو ګناهونو له وجهې پهٔ مخکښينو قومونو باندې عذابونه راغلل هُغه ټول ګناهونه بلکې د هغې نه زيات ګناهونه نن کيږي خو اسماني عذابونه نهٔ راځي، ولې؟ صرف د حضورِ انور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د موجودګۍ له وجهې چې هغوئي پهٔ مونږ کښې تشريف فرما دي-

**دويمه فائده**: حضورِ انور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د پردې فرمائيلو (يعني د وفات شريف) نه پس هم پهٔ مونږ کښې موجود دے، تشريف فرما دے- د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) فيضان د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د وفات سره بند نه شو که چرې حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پهٔ مونږ کښې د يو سعت (يعني د يو سيکنډ) د پاره نه وي نو د الله پاک عذاب به راشي- مونږ صرف د حضورِ انور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پهٔ وجه، د هغوئي پهٔ برکت باندې د عذاب نه بچ يو، رَبّ فرمائي: ﴿وَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِیْنَ﴾ (ترجمه: او مونږه تهٔ د ټولو جهانونو د پاره رحمت ليږلے يې-) حضورِ انور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) رَحمةٌلِّلعَالَمِين دے او رحمت زمونږ سره نزدې دے، دُرُود دې وي پهٔ هغوئي باندې د چا وجودِ با جُود چې ټول رحمت دے-

**دريمه فائده**: د حضور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ذات مبارک پۀ دُنيا کښې د کافرانو د پاره هم رحمت دے چې هغوئي د حضور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) له وجهې پۀ اَمن کښې دي بيا به پۀ مسلمانانو باندې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت څۀ وائي- (تفسيرِ نعيمى، 542/9 بتغير)

**اے د ميلاد عاشقانو!** د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ظاهري طور دُنيا ته د تشريف راوړلو نه پس واقعي ده چې پۀ غير مسلمو باندې هم اجتماعي عذاب نه دےراغلے- **مخکښې** به پوره پوره قومونه تباه کيدل، د هغوئي نخښې نخښانې به ختميدلې د کومو دليلونه چې پۀ قرآن او حديثونو او تاريخي آثارو کښې موجود دي هُغه خلق داسې ترقي يافته وو، دومره طاقتور وو چې ګټې به يې تراشلې او پۀ غرونو کښې به يې کورونه جوړول او داسې داسې کورونه يې جوړ کړي وو کوم چې نن هم قائم دي، هُغه وخت خو د سائنس څۀ درک هم نۀ لګيدو-

حالانکې د سائنس د ترقۍ نه پس چې اوس کوم د کنکريټو کورونه جوړيږي کوم چې مونږ پاخه ګڼو د دې هم دومره وخت نه وي، **مخکښينو** قومونو ته الله پاک دومره پوهه عطا کړې وه خو هغوئي سرکشي وکړه، کُفر يې وکړو او د خپل نبي خبره يې اونه منله نو هغوئي تباه کړے شول- اوس دې غير مسلمه هم سوچ وکړي چې د څوارلس پينځلس سوو کالو نه داسې عذاب نه دے راغلے چې پۀ مخ د زمکه غير مسلمه ختم شي، داسې ولې نه کيږي؟ که چرې څوک سوچ وکړي، د زړۀ نه غور وکړي د رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د برکت قائل به شي، د قرآنِ پاک قائل به شي ځکه چې قرآنِ پاک فرمائيلي دي چې تر څو تاسو موجود يې نو د دې ټولو سره به اجتماعي طور داسې څۀ نه کيږي لکه څنګه چې به مخکښې اجتماعي طور کيدل-

واقعي ده چې قرآنِ کريم ډير د عظمتونو والا کلام دے، انسان چې پۀ دې کښې څومره غور کوي، ژور ځي د دې ژور والے نه معلوميږي او پۀ دې د غور کولو د پاره مونږ ته د علمائے کرامو د لمن نيولو سره پۀ هغوئي پسې شاته شاته تل دي، علمائے کرام چې د دې څومره هم ژور والي ته ځي هغوئي به هم هُغه همره لعلونه، ملغلرې راوړي-

علمائے کرام چې څۀ فرمائي مونږه هم هغه منو د خپل ذِهن نه کار نه اخلو، څوک چې عالمِ دِين وي، پۀ عِلم پوهيږي هغوئي به زما د خبرې تائيد کوي چې واقعي هم داسې ده، نن سبا قِسما قِسم پروفيسرز او ليکچرارز پۀ مختلفو چينلو باندې راځي او د ګمراهۍ ګندې کنستلے کيږي او اُمَّت هغي ته غوږځولے کيږي لهٰذا د چا خبره هم مۀ منئ، صرف د اهلِسُنَّت د عالِمانو خبره اورئ او زما پۀ دې خبره باندې عمل وکړئ۔ د دې سره سره زمونږه اِمام څوک چې تقريباً د يوې صدۍ نه زيات مخکښې تير شوے دے چا ته چې مونږ امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه وايو څوک چې واقعي علمائے اهلِسُنَّت دي هغوئي دے مني او پۀ دۀ پسې ځي، د دوئي پۀ فتاویٰ باندې سترګې پټې ساتي، د دوئي د تحقيق پۀ وړاندې د قلم راخستو جراءت نه کوي او د دوئي تحقيق آخري حرف ګڼي اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! زۀ هم پۀ دوئي پسې روان يم، څوک چې زما (يعنې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه) سره محبت کوي هغوئي هم وريسې روان دي او څوک چې پۀ دوئي پسې روان دي هغوئي به نۀ بے لارې کيږي اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم۔ مونږ پۀ امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پسې ځکه روان يو چې هغوئي د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې په صحيح طور مونږ ته رارسولې دي، د قرآنِ پاک چې کوم صحيح تفسير دے هغه يـې مونږ ته رارسولے دے، د حديث چې کوم صحيح شروحات دي هغه يـې مونږ ته رارسولې دي، د شريعت چې کومې صحيح مسئلې دي هغه يـې مونږ ته رارسولې دي لهٰذا د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د کرم جولۍ کلکه اونيسئ نو پۀ دواړو جهانو کښې به مو کاميابي نصيب شي۔ اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم!

اَنۡتَ فِيۡهِمۡ نے عَدُو کو بھی لیا دامن میں
عیشِ جاوید مبارک تجھے شیدائی دوست

(حدائقِ بخشش، ص 63)

**شرحِ کلامِ رضا:** پۀ قرآنِ کريم کښې چې څۀ وفرمائيلے شول " او د الله دا شان نۀ دے چې هغوئي له عذاب ورکړي چې تر څو پورې اے حبيبه! "تۀ" پۀ دوئي کښې تشريف

فرما يې-" (پ9، سورة الانفال:33) د الله پاک دې فرمان مبارک د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت غير مسلمه په شريکه هم په دُنيا کښې د عذاب نه بچ کړل، لکه چې د الله پاک د خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو سره هغوئي ته هم ظاهري او عارضي اَمان (يعنې پناه) ميلاؤ شوه خو خومره ښکلے قِسمت دے د هغه عاشقِ رسول چا چې په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ايمان راوړلو او د الله پاک په رحمت سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت د هميشه د پاره په اَمان (پناه) کښې راغلو د داسې عاشقِ صادق دې د هميشه د پاره د جنّت ژوند مبارک شي- ځکه چې کوم يو عاشقِ رسول هم په ايمان سره د دُنيا نه رخصت شو نو د هغهٔ ځائے جنَّت دے، مَعَاذَ الله! که چرته ورته د څهٔ داسې ګناه سزا ميلاؤ هم شوه، نو آخر په ايمان باندې د خاتمې له وجهې هغهٔ ته هميشه هُم په جنَّت کښې اوسيدل دي- الله پاک دې مونږ ته د لږ ساعت د پاره هم عذاب نه راکوي، بے حسابه مو دې اوبخښي-

تُو بے حساب بخش کہ ہیں بے حساب جُرم دیتا ہوں واسِطہ تجھے شاہِ حجاز کا

(ذوقِ نعت، ص18)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شَيخَينِ کرِيمَين شان او عظمت

د ذِکر شوي آيت مبارک لاندې حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: معلومه شوه چې د صِدّيقِ اکبر، فاروقِ اعظم (رَضِیَ اللهُ عَنْهُما) په قبرونو کښې عذاب نشته ځکه چې حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د هغوئي سره دے او هغوئي د خوږ مصطفٰے (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په غيږه کښې ارام فرمائي- څوک چې هغوئي په عذاب کښې مني نو هغوئي د دې آيت نه مُنکِر (يعنې انکار کوونکي) دي- (نور العرفان، ص287)

## هر صحابيِ نبي جنَّتي جنَّتي

**اے د میلاد عاشقانو!** زمونږه عقيده ده چې هر صحابي عادل دے يو هم فاسِق نه دے، پهٔ بهارِ شريعت کښې دي چې هر صحابي جنَّتي دے- (بهارِشريعت، 254/1)

| | |
|---|---|
| هر صحابيِ نبي! جنتي جنتي | ټولې صحابياتې هُم! جنّتي جنّتي |
| څلور ياران د نبي! جنّتي جنّتي | حضرت صِدّيق هُم! جنّتي جنّتي |
| او عمر فاروق هُم! جنّتي جنّتي | عثمانِ غني! جنّتي جنّتي |
| فاطمه او علي! جنّتي جنّتي | حَسَن او حُسَين هُم! جنّتي جنّتي |
| والدين د نبي! جنّتي جنّتي | هره زوجهٔ نبي! جنّتي جنّتي |
| حضرتِ معاويه! جنّتي جنّتي | او ابوسُفيان هُم! جنّتي جنّتي |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## الله پاک د ټولو انبيائے کرامو نه وعده واخستله

**اے د میلاد عاشقانو!** الله پاک پهٔ 3 سيپاره، سورهٔ اٰلِ عمران، آيت نمبر: 81 کښې ارشاد فرمائي:

وَ اِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَاۤ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّ حِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَ لَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وَ اَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِیْ ؕ قَالُوْۤا اَقْرَرْنَا ؕ قَالَ فَاشْهَدُوْا وَ اَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۱﴾

ترجمه: او ياد کړه چې کله الله د نبيانو نه وعده واخسته چې زهٔ به تاسو ته کتاب او حکمت درکووم بيا به تاسو له هغه عَظَمت والا رسول تشريف راوړي چې هغهٔ به ستاسو د کتابونو تصديق کوونکے وي نو تاسو ضرور ضرور پهٔ هغهٔ ايمان راوړئ او ضرور ضرور د هغهٔ مدد وکړئ. (الله) وفرمائيل: (اے نبيانو!) آيا تاسو (د دې حُکم

اقرار وکړو او په دې (اقرار) مو زما درنه ذِمّه واري واخستله؟ ټولو عرض وکړو، "مونږه اقرار وکړو" (الله) وفرمائيل: نو (اوس) پهٔ يو بل (هُم) ګواه جوړ شئ او زهٔ ېخپله (هُم) تاسو سره د ګواهانو نه يم -

## د ټولو نبيانو نبي

د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت عليُّ المرتضیٰ شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ وفرمائيل چې الله پاک حضرت آدم علیہ السلام او د هغوئي نه پس چې کوم نبي ته نُبُوَّت عطا کړلو د هغوئي نه يې د سيدُ الانبيا، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ باره کښې وعده واخستله او دې انبيائے کرامو علیہم السلام د خپلو قومونو نه وعده واخستله چې که چرې د دوئي پهٔ ژوند مبارک کښې حضورِ پاک صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړي نو دوئي دې د حضورِ اَکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مدد وکړي- (تفسير خازن، 267/1، 268)

نبیوں میں ہو تم ایسے نبیُّ الانبیا تم ہو حسینوں میں تم ایسے ہو کہ محبوبِ خدا تم ہو

(سامانِ بخشش، ص164)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو نه وړومبے او د ټولو آخري نبي

د بهارِ شريعت مصنف، حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د قرآني آيتونو او حديثونو مبارکو پهٔ رڼا کښې فرمائي: د ټولو نه وړومبے د نبوت مرتبه حضور (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ته ميلاؤ شوه- د وعدې اخستو پهٔ ورځ د ټولو انبيائے کرامو نه پهٔ حضور (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندې د ايمان راوړلو او د حضور (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د مدد کولو وعده واخستے شوه او پهٔ دې شرط باندې دا عظيمُ الشانه عهده هغوئي ته ورکړے شوه- حضور (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نبيُّ الانبيا (يعني د نبيانو هم نبي) دے او ټول انبيائے کرام د حضور (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ) اُمَّتيان دي، ټولو پهٔ خپلو خپلو مبارکو وختونو او مبارکو زمانو کښې د حضور (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نيابت (يعني د نائب کيدو پهٔ حيث) کار وکړو- (بهارِ شريعت، 85/1)

تاجدارِ انبیاء، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا | رازدارِ کبریا، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا
آگئے خیرُ الورٰی، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا | آئے شاہِ انبیاء، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا
مظہرِ ربُّ العُلٰی، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا | مصطفٰے و مُجتبیٰ، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا
پیشوائے انبیاء، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا | مرسلیں کے مُقتَدا، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا

(وسائلِ بخشش، ص 145)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو نبيانو نه خوګند واخستے شو

د دريو سوو کالو نه هم مخکښې تير شوے بزرګ حضرت علامه عبدُ الغني بن اسماعيل نابُلُسي دَمِشقي حنفي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ (وفات: 1143ھ) ليکي: د انبيائے کرامو علَیهِمُ السَّلام نه د وعدې اخستو وجه دا وه چې هغوئي ته معلومه شي چې حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي ټولو نه وړومبے او د هغوئي ټولو نبي او رسول دے او دا وعده اخستل د خليفه جوړولو په معنیٰ کښې ده، ځکه ﴿لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ﴾ (نو تاسو ضرور ضرور په هغهٔ ايمان راوړئ او ضرور ضرور د هغهٔ مدد وکړئ-) په دواړو ځايونو باندې "لامِ قَسم" داخل دے په کومه کښې چې يوه ډيره باريکه نُکته دا ده لکه چې دا وعده په دې بيعت باندې خوګند اخستل دي کومه چې د خُلَفاؤ نه اخستلے کيږي- کيدے شي چې د دې وعدې په ذريعه د ټولو انبيائے کرامو علَیهِمُ السَّلام نه د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خليفه کيدلو خوګند اخستے شوے وي-

**اے بنده!** د الله پاک د طرف نه درکړے شوے دا عظمت او رِفعَت وپيژنه او چې کله په دې پوهه شوې نو تا ته دا هم معلومه شوه چې حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نبيانو هم نبي دے- په آخرت کښې به د دې اِظهار د پاره ټول انبيائے کرام علَیهِمُ السَّلام د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جنډې لاندې راجمع کيږي لکه څنګه چې په دُنيا کښې د دې اظهار

د معراج پهٔ شپه وشو چې کله حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټولو انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلَام له جمعه ورکړله۔

حشر میں زیرِ لوائے حمد اے عطارؔ ہم
نعتِ سلطانِ مدینہ گنگناتے جائیں گے
(وسائل بخشش، ص 419)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو نه د لوئے شان والا

د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شان او عظمت بیانولو سره اووه نیم سوه کاله مخکښې تیر شوے بُزرګ حضرت اِمام محمد شَرَفُ الدِّین بُوصیري رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ (د یو روایت مطابق وفات: 694ھ) پهٔ خپله قصیده بُرده شریف کښې چې څهٔ فرمائیلي دي د هغې د نظم چا څهٔ داسې ترجمه کړې ده:

جو شرف چاہو کرو منسوب اس کی ذات سے
کوئی عظمت کیوں نہ ہو ہے منزِلت سے اس کی کم
حد نہیں رکھتی فضیلت کچھ رسول اللہ کی
لَب کشائی کیا کریں اہلِ عرب اہلِ عجم
(سیرت رسول عربی، ص 551)

د اعلیٰ حضرت شهزاده، حُجَّةُ الاِسلَام حضرت مولانا حامد رضا خان رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هم څهٔ ښکلي وئیلي دي:

خُدا کہتے نہیں بنتی جُدا کہتے نہیں بنتی
خدا پر اِس کو چھوڑا ہے وہی جانے کہ کیا تم ہو
(بیاضِ پاک، ص 15)

دونوں عالم میں کوئی بھی تم سا نہیں
سب حسینوں سے بڑھ کر کے تم ہو حسیں
قاسمِ رزقِ ربُّ العُلیٰ ہو تمہیں
تم پہ ہر دَم کروڑوں دُرُود و سلام
(وسائلِ بخشش، ص 603)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو د شروع نه شهرت

حضرت سیّدنا عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہما روايت کوي: الله پاک هميشه د خپل خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باره کښې حضرت آدم علیہ السلام او د هغوئي نه پس ټولو انبيائے کرامو علیہم السلام ته د تشريف راوړلو فرمائيل او مخکښينو ټولو اُمَّتونو به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو خوشحالي کولې او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيلې سره به يـې په خپلو دښمنانو باندې فتح غوښتله تر دې پورې چې الله پاک حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بهترين اُمَّت، بهترينه زمانه او بهترينو صحابه کرامو [رضی اللہ عنہم] او بهترين ښار کښې ظاهر کړو- (الخصائص الکبریٰ،1/8،9)

لیا تھا روزِ میثاق انبیا سے حق تعالیٰ نے  تمہاری پیروی کا عہد و پیماں یا رسولَ اللہ

(قبالۂ بخشش، ص226)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوارلس سوه نومونه

**اے د ميلاد عاشقانو!** د الله کريم د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بے شميره فضائل او کمالونه دي او د هغوئي مبارک نومونه ډېر زيات دي-

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) عَلَمِ ذات (ذاتي نومونه) دوه دي: په مخکښينو کتابونو کښې "احمد" او په قرآنِ کريم کښې "مُحَمَّد" صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے او د حضورِ پاک (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) صفتي نومونه ډېر زيات دي، مونږ يـې شمارلے نشو- علامه احمد خطيب قَسطَلاني (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 500 نومونه راجمع کړي دي- (مواہب لدنیہ،1/366 ملخصاً) په "سيرتِ شامي" کښې 300 نور زيات شوي دي داسې دا 800 شول او ما (يعني اعلیٰ حضرت) ورسره 600 نور ميلاؤ کړل، ټول 1400 شول او د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اَسما (يعني نومونه مبارک) په هره طبقه کښې مختلف دي او په هر يو جنس کښې

بدل بدل دي، په دريابونو کښې نور نومونه دي، په غرونو کښې نور دي- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص92) سُبْحٰنَ الله! د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه عِلمي لياقت ته وګورئ-
د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نومونه مبارک په هره ژبه کښې دي، په سندهی کښې بيل دي نو په پنجابی کښې بيل دي، ځکه د نومونو شميرل يې زمونږ د پاره ممکن نه دي- رَبّ د هر څۀ نه خبر دے، دا هم د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فضيلت يو باب دے-
مولانا جميل الرحمان رضوي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په قَبالۂ بخشش کښې فرمائي:

کسی جا ہے طٰہٰ و یٰسٓ کہیں پر لقب ہے سِراجًا مُنیرًا تمہارا

(قبالۂ بخشش، ص30)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمر

اے د میلاد عاشقانو! الله پاک په قرآنِ کريم کښې خپل خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ډيرو ښکلو ښکلو نومونو باندې ياد کړے دے لکه په 22 سيپاره، سورة الْاَحْزَاب، آيت نمبر 45 او 46 کښې ارشاد دے:

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا وَّ نَذِيْرًا ۙ۝۴۵ وَّ دَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَ سِرَاجًا مُّنِيْرًا ۝۴۶

ترجمه: اے نبي! مونږه تۀ ګواه او زيرے ورکوونکے او ويره اَورَوونکے او د الله طرف ته د هغۀ په حُکم رابلونکے او ځليدونکے نمر وليږلې-
په دې آيتونو مبارکو کښې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو نوم نۀ بلکې د نومونو لِسټ دے-
﴿1﴾ نبي ﴿2﴾ شاهد ﴿3﴾ مُبَشِّر ﴿4﴾ نذير ﴿5﴾ داعِيٰ اِلَى الله ﴿6﴾ سِراجاً منيراً-
دا دواړه آيتونه يو قِسم له د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نومونو باندې مشتمل دي-

## د 786 کاله مخکښينو بزرګانو تفسير

تقريباً د 786 کاله مخکښې تير شوي بزرګ په حوالې سره حضرت سيِّدُنا امام عِزُّ الدِّين بن عبدُ السَّلام رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه (وفات: 660ھ) په ”حديقه نديه“ کښې د ”سِرَاجاً مُّنِيراً

يعني پرقيدونكي نمر" لاندې ليكلي دي: "د سِراج معنیٰ دا ده چې حضور نبي اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک د طرف نه واضحه او ظاهر حجَّت (يعني بالكل واضحه صفا دليل) دے-" (حديقه نديه،240/1)

786 ډير ښكلے عدد دے- پۀ اصل كښې د علمُ الاَعداد پۀ حساب سره د "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" عدد 786 جوړيږي، علمُ الاَعداد يو عِلم دے، تاسو به پۀ تعويذونو وغيره كښې 786 ليكلے شوے ليدلے وي البته د 786 ليكلو يا لوستلو سره د ټولې بسم الله د ليكلو او لوستلو ثواب نه ميلاويږي-

تقريباً 786 كاله مخكښې بزرګ كوم چې ډير مشهور مفسِّر تير شوے دے او ټول علمائے كرام به هغوئي پيژني او د هغوئي نه به خبر وي او هٔغه بزرګ دے: حضرت سيِّدُنا امام عبدُ الله بن عمر ناصرُ الدِّين بَيضاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (وفات: 685ھ)، دے پۀ خپل مشهور تفسير "تفسيرِ بيضاوي" كښې فرمائي: حضورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم "سراجِ مُنير" دے چې د جهالت پۀ تيارو كښې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له وجهې رڼا حاصلولے شي او د فَهم او فِراست انوار د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور نه فيض حاصلوي- (تفسير بيضاوی،379/4)

چمک سے اپنی جہاں جگمگانے آئے ہیں
مہک سے اپنی یہ کوچے بسانے آئے ہیں
سحر کو نور جو چمکا تو شام تک چمکا
بتادیا کہ جہاں جگمگانے آئے ہیں
(سامانِ بخشش، ص138)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ټول كائنات روښانه كوونكے

د اعلیٰ حضرت والد محترم، علامه مولانا مفتي نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: لكه څنګه چې د نمر نُور ټوله دُنيا راګيره كړې ده هم دغه شان ټول جهان د رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پۀ نُور باندې منور (يعني روښانه) دے لكه څنګه چې الله پاک ستورې د مسافرو د رهنمايۍ د پاره جوړ كړل او نمر يې پۀ دې خبره كښې د دوئي نه

ممتاز کړلو، هم دغه شان يې انبيائے کرام عليهم السّلام د ګمراهانو د هدايت د پاره راوليږل او زمونږه حضرت (محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) يـې په دې خبره کښې او په ټولو فضائلو او کمالونو کښې د دوئي (يعني ټولو انبيائے کرامو او رسولانو عليهم السّلام) نه افضل او اَکمل کړو- (سرور القلوب بذکر المحبوب، ص110)

آنکھیں ٹھنڈی ہوں جگر تازے ہوں جانیں سیراب
سچّے سورج وہ دِل آرا ہے اُجالا تیرا

**شرحِ کلامِ رضا:** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اے رښتوني نمره، زما آقا، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو ديدار دومره د زړونو ګټلو والا او روښانه دے چې د دې رڼا والا ديدار سره سترګې يخيږي، ځيګر تازه کيږي او د تږکو تنده ماتيږي-

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده حضور مفتي اعظم هند مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم دا خبره خومره په ښکلي انداز کښې بيانوي-

نگاہِ مہر جو اُس مہر کی اِدھر ہو جائے
گُنہ کے داغ مٹیں دِل مرا قمر ہو جائے
جو قلبِ تیرہ پہ تیری کبھی نظر ہو جائے
تو ایک نور کا بُقعہ وہ سَر بَسر ہو جائے

(سامانِ بخشش، ص187)

يعني که د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم نظر ما ته وشي نو زما د ګناهونو داغونه به وران شي او زما زړۀ به پړقيدونکي سپوږمۍ شي- يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! چې زما په تيارۀ زړۀ باندې ستاسو نظر شي نو هغه به ټول نُور نُور شي-

سُبْحٰنَ الله! دا د عاشقِ رسول جذبات، احساسات او کمال تخيلات دي- الله پاک دې په هغوئي باندې کروړونه رحمتونه نازل کړي چې د هغوئي په شعرونو باندې هم ايمان ډير تازه کيږي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عظمت نمر

حضرت امام محمد شَرَفُ الدِّين بُوصيري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير مشهور بزرګ دے، د هغوئي

”قصيدهٔ بُرده“ پهٔ ټوله دُنيا کښې دومره مشهوره ده چې بَلې يوې قصيدې دومره شهرت نه دے حاصل کړے- پهٔ دُنيا کښې د مختلفو ژبو والا خلق دا لولي په خاص طور پهٔ عربو کښې دا قصيده ډيره زياته لوستلے شي- امام بوصيري رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه پهٔ قصيدهٔ بُرده شريف کښې د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان څهٔ داسې بيانوي:

فَاِنَّهٗ شَمۡسُ فَضۡلٍ هُمۡ كَوَاكِبُهَا
يُظۡهِرۡنَ اَنۡوَارَهَا لِلنَّاسِ فِي الظُّلَمِ

يعنې هُغه محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عظمت روښانه نمر دے او باقي پاتې انبيائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام د هغوئي پرقيدونکي ستوري دي چې ټولو ستاسو نُور واخستو او پهٔ تيارو کښې پهٔ اوسيدونکو خلقو باندې يې ظاهر کړو- (قصيدة البردہ مع عصيدة الشهدة، ص154)

حضرت شاه عبدُ العزيز مُحدِّث دِهلوِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه عرض کوي:

يَا صَاحِبَ الۡجَمَالِ وَيَا سَيِّدَ الۡبَشَرۡ
مِنۡ وَّجۡهِكَ الۡمُنِيۡرِ لَقَدۡ نُوِّرَ الۡقَمَرۡ
لَا يُمۡكِنُ الثَّنَآءُ كَمَا كَانَ حَقُّهٗ
بَعۡد اَزۡ خُدا بُزُرگ تُوئی قِصَّهٗ مُخۡتَصَر

(کمالات عزيزی، حالات عزيزی، ص34)

يعنې اے د حُسن او جمال والا، اے د ټولو انسانانو سرداره! ستاسو د روښانه مخ مبارک نه د رڼا اخستو سره سپوږمۍ پرقيږي- اے د الله پاک خوږه نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زمونږ نه دا ممکن نه ده چې ستاسو شان داسې بيان کړو لکه څنګه چې د بيانيدو حق دے، مونږ ته بس دومره معلومه ده چې د الله پاک نه پس که څوک افضل ترين دے نو هغهٔ ستاسو ذات دے او پهٔ ټول مخلوق کښې صرف ستاسو ذات د ټولو نه افضل دے-

اُٹھا دو پردہ دِکھا دو چہرہ کہ نورِ باری حجاب میں ہے
زمانہ تاریک ہو رہا ہے کہ مہر کب سے نقاب میں ہے
زندگیاں ختم ہوئیں اور قلم ٹوٹ گئے
پَر تیرے اوصاف کا اک باب بھی پورا نہ ہُوا

(حدائق بخشش، ص180)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ټول مخلوق رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

الله ربُّ العِزّت پۀ 6 سيپاره، سورة النِّساء، آيت نمبر: 170 کښې ارشاد فرمائي:

﴿يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ﴾ ترجمه: "اے خلقو! ستاسو د رَب له طرفه تاسو ته دې رسول پۀ حق سره تشريف راوړے دے-"

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د آيت مبارک پۀ دې حصه "يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ" يعني اے خلقو! پۀ تفسير کښې ليکي: د چا د مطلب خبره چې کيږي هغۀ ته اواز کولے شي- طبيب (مثلاً ډاکټر) بيمارانو ته وائي- اے بيمارانو! دا دوائي ډيره فائده منده ده- څوک عالِم چې د څۀ کتاب اعلان کوي نو وائي: اے طالبِ علمانو! د عِلم شوق لرونکو! دا کتاب ډير ښه دے- الله پاک پۀ دې آيت مبارک کښې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ميلادِ پاک اعلان کوي او د هغوئي ولادتِ پاک خو د ټول جهان او ټولو انسانانو د پاره فائده مند دے لهٰذا يوې خاص ډلې ته يې اواز اونه کړو بلکې د "يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ" وئيلو سره يې خلقو ته اواز وکړو- دا اواز کول د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو د نبي کيدلو دليل دے- اګر چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول مخلوق پيريانو، انسانانو، فرښتو وغيره نبي دے- پخپله يې پۀ يو حديثِ پاک کښې ارشاد وفرمائيلو: اُرْسِلْتُ اِلَى الْخَلْقِ كَآفَّةً يعني زۀ د ټول مخلوق طرف ته راليږلے شوے يم- (مسلم، ص266، حديث:523) خو انسان اصل مقصود دے، نور مخلوق تابع دے- ځکه يې صرف انسانانو ته اواز وکړو- ياد ساتئ چې پۀ دې "النَّاسُ" يعني انسان کښې صرف د هغې زمانې انسانانو ته خطاب نه دے بلکې تر قيامته پورې ټولو انسانانو ته اواز وکړے شو- ځکه چې پۀ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ايمان راوړل پۀ ټولو انسانانو باندې لازم دي- د تفسيرِ جَلالَين شريف پۀ حاشيه صاوي شريف کښې هم ليکلي دي چې دا "اعلان د ټولو د پاره عام دے-"

مفتي صاحب مخکښې ليکي: زمونږ دُنيا ته راتللو ته "خَلق" يا "ولادت" وئيلے کيږي خو د حضورِ پاک (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تشريف راوړلو ته الله پاک جَآءَ، بَعَثَ، اَرْسَلَ (يعني تشريف يې راوړلو، وليږلو) الفاظ بيان کړل، دلته يې وفرمائيل: "قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ"

پۀ بَل ځائے کښې يـې وفرمائيل: "اِذْبَعَثَ فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا" (ترجمه: پۀ هغوئي کښې يـې د هغوئي نه يو رسول وليږلو) ، پۀ يو ځائے کښې يـې وفرمائيل: " اَرۡسَلۡنٰكَ شَاهِدًا" (ترجمه: مونږه تۀ وليږلې حاضر ناظر) ځکه چې مونږ دُنيا ته د راتلو نه مخکښې هيڅ نه وو، څۀ چې رانه جوړ شوي دي دلته د راتللو سره جوړ شوي دي خو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هر څۀ جوړيدلو نه پس دلته تشريف راوړے دے- مونږه دلته د څۀ جوړيدو د پاره راغلو خو هغوئي يعني زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هر څۀ جوړيدلو نه پس د نورو جوړولو د پاره تشريف راوړلو د دې سره سره مونږ د خپل کار د پاره راغلو چې دلته ښه اعمال وکړو او خپل آخرت ښه کړو خو حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د رَبّ د کار د پاره راغلو چې د هغۀ د مخلوق اِصلاح وکړي- ټول د يو خاص وخت د پاره راځي (خو) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هميشه د پاره تشريف راوړلو، هغوئي داسې تشريف راوړلو چې د ظاهري وفات نه پس هم نه دے تلے ځکه "جَآءَكُمۡ " وفرمائيلے شول- يعني اے تر قيامته پورې انسانانو! هغۀ تاسو ټولو ته راغلو او داسې راغلو چې ستاسو نه واپس نه دے تلے- ياد ساتئ چې د حضورِ انور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) ولادت پۀ عربو کښې دے، اوسيږي پۀ مکه مدينه کښې خو تشريف يـې د ټول جهان د پاره راوړے دے- لکه څنګه چې نمر پۀ اسمان کښې دے خو پۀ ټول جهان روښانه دے چې د ټول جهان نظام د دۀ سره تړلے دے- هم داسې د کائنات نظام، د عرش او فرش نظام هم د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) سره تړلے دے- دا محبوب د مخلوق د پاره د ربِ اعلیٰ تحفه جوړشو او راغلو ځکه "مِنۡ رَّبِّكُمۡ يعني ستاسو د رَبّ د طرف نه" ارشاد شو-

چا وئيلي دي:

خلق میں سب سے تُو بڑا تجھ سے بڑی خدا کی ذات

قائم ہے تیری ذات سے سارا نظامِ کائنات

صَـلُّـوۡا عَـلَى الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## میلاد شریف بیانول د الله پاک سُنَّت دي

حضرت مفتي احمد یار خان صاحب رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نور فرمائي: د دې آیت مبارک نه یو څو فائدې حاصلې شوې- وړومبۍ **فائده**: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم میلاد شریف بیانول سُنَّتِ اِلٰهیه دے- الله پاک وفرمائیل چې تاسو ته راغلو، (چرته یې وفرمائیل:) لیږلے شوے دا هر څهٔ هم د میلاد د بیان انداز دے- میلاد یو مشهور لفظ دے، چې د ولادت ذِکرِ خیر وکړې نو میلاد، د معجزو ذِکر وکړې نو میلاد، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دې بیان کړو نو میلاد دلته دې ټولو ته میلاد وئیلے شي- وګورئ الله پاک پهٔ دې آیت مبارک کښې د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم میلاد بیان کړو او پهٔ ډیرو آیتونو مبارکو کښې د هغوئي میلاد شریف ذِکر بیان کړے شوے دے- قرآنِ مجید بیان کړل چې انبیائے کرامو (عليهم السّلام) به هم د خپل قوم پهٔ وړاندې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم میلاد شریف لوستلو- حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام خپل قوم ته وفرمائیل: ﴿ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗۤ اَحْمَدُ﴾ ترجمه: " او د هُغه عظیم رسول زیرے درکوونکے یم کوم چې به زما نه پس تشریف راوړي د هغهٔ نوم احمد دے"

دا خو هم د میلاد ذِکر دے، څوک چې پرې نه پوهیږي هم هغهٔ به انکار کوي- الغرض میلادِ پاک د الله پاک سُنَّت هم دي او د انبیائے کرامو سُنَّت هم دي- **دویمه فائده**: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول مخلوق د پاره د همیشه د پاره رسول دے- د یو خاص قوم، خاص ملک، خاص وخت د پاره نهٔ دے- (تفسیر نعیمی، 115/6تا120 بتغیر)

یو شاعر څهٔ ډیر ښه وئیلي دي:

تجلّیوں کے کفیل تم ہو
مرادِ قلبِ خلیل تم ہو

خدا کی روشن دلیل تم ہو
یہ سب تمہاری ہی روشنی ہے

عمل کی میرے اَساس کیا ہے
بجُز نَدامت کے پاس کیا ہے

رہے سلامت تمہاری نسبت
مرا تو اِک آسرا یہی ہے

عطا کیا مجھ کو دردِ اُلفت
کہاں تھی یہ پُر خطا کی قسمت

میں اس کرم کے کہاں تھا قابل
حُضُور کی بندہ پَروَری ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دوارو جهانونو د پاره رحمت

**اے د میلاد عاشقانو!** الله پاک پۀ 17 سیپاره، سورۀ انبیا، آیت نمبر: 107 کښې ارشاد فرمائي: ﴿وَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰکَ اِلَّا رَحۡمَۃً لِّلۡعٰلَمِیۡنَ﴾ ” ترجمۀ: ” او مونږه تۀ د ټولو جهانونو د پاره رحمت لیږلے یې۔“

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د الله پاک خوږ آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبیانو، رسولانو او فرښتو عَلَیۡهِمُ السَّلَام د پاره پۀ دِین او دُنیا کښې رحمت دے، د پیریانو او انسانانو، مسلمانانو او غیر مسلو، څناورو، نباتاتو او جماداتو (لکه د دهات، کاڼو، غرونو) د ټولو د پاره رحمت دے الغرض پۀ کائنات کښې چې هر څومره څیزونه دي ټول د الله پاک د خوږ آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت نه فائده اخلي، رسولِ پاک صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ټولو د پاره رحمت دے۔ 825 کاله مخکښې تیر شوے عظیم مُفَسِّر بزرګ امام فخرُ الدِّین رازي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه (وفات: 606ھ) فرمائي: ”چې حضور صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول عالمین د پاره رحمت دے نو لازمه شوه چې هغۀ (د الله پاک نه علاوه څومره هم مخلوق دے) د ټولو نه افضل وي۔ (تفسیر کبیر، البقرة، تحت الآية: 253، 2/521)

حضرت سیِّدُنا امام بَیضاوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د دې آیت پۀ تفسیر کښې فرمائي: د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول جهان د پاره د رحمت کیدلو معنیٰ دا ده چې د څۀ راوړلو سره رحمتِ عالم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړے دے دا د ټول جهان د خلقو د سعادت او د هغوئي د ژوند او د آخرت د بهترۍ د پاره لازم دي۔

(تفسیرِ بیضاوی، پ 17، الانبیاء، تحت الاية: 107، 4/111)

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د عقیدت څۀ ښکلې نذرانه وړاندې کوي چې صرف د رحمت سره نۀ بلکې د جانِ رحمت وئیلو سره یې عرض کړې دي:

مصطفیٰ جانِ رحمت پہ لاکھوں سلام
شمعِ بزمِ ہدایت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش، ص 295)

**شرحِ کلامِ رضا:** اے زما خوږه آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو صرف رحمت نهٔ یئ بلکې د رحمت هم ځان، او د رحمت هم اَصل او بنیاد یئ، پهٔ تاسو باندې دې پهٔ لکونو سلامونه وي- تاسو د انبیائے کرامو او رُسلِ عظامو علیهم السّلام د محفل پرقیدونکې، نُور خورونکې روښانه شمع یئ، پهٔ تاسو باندې دې پهٔ لکونو سلامونه وي-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رحمت پهٔ غیر مسلمو باندې هم

حضرت عبدُ الله بن عباس رضی اللہ عنہما فرمائي: د نبيِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رحمت کیدل عام دي، د ایمان والا د پاره هم او د هغهٔ د پاره هم چا چې ایمان نه دے راوړے- د مؤمِن د پاره خو حضورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنیا او د آخرت دواړو د پاره رحمت دے او چا چې ایمان نه دے راوړے د هغهٔ د پاره حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ دُنیا کښې رحمت دے چې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له وجهې د هغهٔ دُنیائي عذاب وروستو کړے شو او د هغهٔ نه پهٔ زمکه کښې د دننه کیدو عذاب، د شکلونو ورانیدو عذاب او د ختمې نه د ویستو عذاب اوچت کړے شو- (تفسیر خازن، الانبیاء، تحت الآیة:107، 3/297)

مخکښې به د غیر مسلمو پوره پوره قومونه پهٔ زمکه دننه کولے شول یا به پهٔ سمندر کښې غرق کولے شول خو اوس به داسې نه کیږي، دا هم پهٔ هغوئي باندې رحمت دے چې پهٔ څهٔ طریقه باندې دوئي ایمان راوړي او پهٔ حقیقت کښې د رحمت لمنې ته راشي-

## قاسِمِ نعمت، نبي رحمت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: لوئے لوئے عالمان، لوئے لوئے اولیائے کرام فرمائي چې "د اَزل نه تر اَبده، پهٔ زمکه او اسمان کښې، پهٔ اولیٰ او پهٔ آخرت کښې، پهٔ دِین او پهٔ دُنیا کښې، پهٔ رُوح او پهٔ بدن کښې، وړوکے یا غټ، ډیر یا لږ، څهٔ نعمت او دولت چې چا ته هم میلاؤ شوے یا اوس میلاویږي یا به بیا میلاویږي ټول د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بارګاه نه تقسیمیږي او همیشه به تقسیمیږي-

(فتاوٰی رضویه، رساله: تجلی الیقین، 30/141)

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي:

لَاوَرَبِّ العَرش جس کو جو ملا اُن سے ملا
بٹتی ہے کونین میں نعمت رسول اللہ کی

(حدائقِ بخشش، ص152)

**شرحِ کلامِ رضا:** لَا وَرَبِّ العَرش يعني د عرش په رَبّ باندې مې دې قَسم وي چې په کائنات کښې چې چا ته هم نعمت او برکت حاصل شو هُغه ټول د رحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صدقه ده خو د دُنيا او د آخرت هر نعمت، د نبيِ رحمت، شفيعِ اُمَّت، تاجدارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تقسيم او اجازت سره ميلاويږي، رحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قاسمِ نعمت يعنې نعمتونه تقسيمووونکے دے لکه څنګه چې پخپله فرمائي: اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَاللهُ يُعْطِي يعنې زۀ تقسيمووونکے يم او الله پاک عطا کوي- (بخاری، 1/43، حديث:71)

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي:

رَبّ ہے مُعْطِی، یہ ہیں قاسم
رِزق اُس کا ہے، کِھلاتے یہ ہیں
ٹھنڈا ٹھنڈا میٹھا میٹھا
پیتے ہم ہیں، پلاتے یہ ہیں
نزعِ روح میں آسانی دیں
کلمہ یاد دِلاتے یہ ہیں
مرقَد میں بندوں کو تھپک کے
میٹھی نیند سُلاتے یہ ہیں
کہہ دو رضا سے خوش ہو خوش رہ
مژدہ رضا کا سُناتے یہ ہیں

## د اعلیٰ رَحْمَةُاللهِعَلَيْه شاعري

د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه شاعري د عامو شاعرانو په شان نه وه ځکه چې هغوئي د قرآنِ کريم ډير لوئے مفسر، زبردست محدِّث، د اِسلام ډير لوئے مفتي او ډير زبردست عاشقِ رسول او د الله پاک ډير مقبول ولي دے- د هغوئي شاعري عين د قرآن او د حديث مطابق ده، د هغوئي په شعرونو کښې که چرته د قرآني آيتونو بيان دے نو چرته د حديثونو مبارکو تشريح او چرته د اوليائے کرامو، علمائے کرامو، بزرګانِ دِين، عارفينو، صالحانو، صوفيائے کرامو اقوال زرين- د الله ربُّ العِزّت په رحمت سره د عشقِ رسول چې کوم جام سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په ټوله

دُنیا کښې عام کړے دے، که نن څوک هُغه د محبت جام پهٔ عقیدت او محبت سره وڅښي نو بیا به هغهٔ هم پهٔ مستئ کښې وائي۔

رحمتِ پروردگار، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا
یاشہِ عالی وقار، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا
اے خدا کے شاہکار، اَہلاً وَّسَہلاً
سب پکارو بار بار، اَہلاً وَّسَہلاً مرحبا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## یا الله پاکه! ستا ډیر شُکر دے چې تا زهٔ مسلمان جوړ کړم

د عظیم تابعي بُزُرګ، حضرت سیِّدُنا امام حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روایت دے چې نُور والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو کَس پهٔ " اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ بِالْاِسْلَامِ " یعنې د اِسلام پهٔ نعمت باندې د الله پاک شُکر دے۔ پهٔ وئیلو واوریدو نو ارشاد یې وفرمائیلو: "بے شکه تا د الله پاک د ډیر لوئے نعمت شُکر ادا کړے دے"۔ (الزهد لابن مبارک، ص318، حدیث: 911)

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض کوي:

ان کی اُمّت میں بنایا اُنہیں رحمت بھیجا
یوں نہ فرما کہ ترا رحم میں دعویٰ کیا ہے

(حدائقِ بخشش، ص171)

**شرحِ کلامِ رضا:** اے زما خوږه الله پاکه! د قیامت پهٔ ورځ باندې تهٔ ما ته دا مهٔ فرمایه چې زما پهٔ رحمت کښې حصه نشته ځکه چې ستا لوئے فضل او کرم دے چې تا زهٔ د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ اُمَّت کښې پیدا کړم او تا خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دواړو جهانو د پاره رحمت رالیږلے دے، چې زهٔ د نبيِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتي یم نو ضرور ستا د رحم او کرم مُستحِق او حقدار یم۔

شهنشاهِ سخن، مولانا حَسَن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ناز نه ډک پهٔ کوم انداز کښې عرض کوي:

شافعِ روزِ قیامت کا ہوں اَدنیٰ اُمَّتی
پھر حسن کیا غم اگر میں بارِ عِصیاں لے چلا

(ذوقِ نعت، ص44)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**اے د میلادِ مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** مونږ د داسې خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمَّتیان یو د چا په باره کښې چې د قرآنِ کریم په 11 سیپاره، سورة التَّوبه، آیت نمبر: 128 کښې ارشاد دے:

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِیْزٌ عَلَیْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِیْصٌ عَلَیْكُمْ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۲۸﴾

ترجمه: بے شکه تاسو ته ستاسو نه څخه عظیم رسول تشریف راوړو چې په څخوئې باندې ستاسو په مشقت کښې پریوتل ډیر درانه [ګران] تیریږي، هغوئې ستاسو د ښیګړې ډیر زیات غوښتونکے، په مسلمانانو باندې ډیر مهربانه، رحم کوونکے دے۔

جس سُہانی گھڑی چمکا طیبہ کا چاند — اُس دل آفروز ساعت پہ لاکھوں سلام

پہلے سجدہ پہ روزِ ازل سے دُرُود — یادگاریِ اُمّت پہ لاکھوں سلام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## درې دُعاګانې

زمونږه د ګنهګارانو شفاعت کوونکې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائیلو: الله پاک ما ته درې سوالونه راعطا کړل، ما دوه ځل (خو په دُنیا کښې) عرض وکړو: ”اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاُمَّتِیْ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاُمَّتِیْ یعنې اے الله پاکه! زما اُمَّت اوبخښې، اے الله پاکه! زما اُمَّت اوبخښې۔“ او دریم عرض مې د هغې ورځې د پاره کیښودے دے په کومه کښې چې به د الله مخلوق زما طرف ته محتاج وي تر دې چې (د الله پاک خلیل) حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام به هم زما نیاز مند (حاجت مند) وي۔(مسلم، ص318، حدیث: 1904)

وہ جہنّم میں گیا جو اُن سے مُستَغنی ہوا — ہے خلیلُ اللہ کو حاجت رسولُ اللہ کی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مور پلار نه هم زيات مهربانه

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: "اے د اُمَّت ګنهګارانو! آيا تاسو د خپل مالک او مولیٰ دا کمال مهرباني او رحمت پۀ خپل حال باندې اونه ليدلو چې د الله پاک د دربار نه درې سوالونه حضور (صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته ميلاو شول چې څۀ غواړې نو وغواړه- حضور (صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پۀ هغې کښې يو سوال هم د خپل ذات د پاره اونه کړو، ټول يې هم ستا د پاره وکړل، دوه سوالونه يې پۀ دُنيا کښې وکړل هغه هم ستا د پاره، دريم يې د آخرت د پاره پريښودو، هغه ستا د هُغه لوئے ضرورت د پاره چې کله به د هُغه مهربان مولا، رؤف او رحيم آقا (صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نه علاوه هيڅ پکار نه راځي، بيړۍ پار کولو والا به نه وي، وَاللّٰهِ العَظِيم! قسم مې دې پۀ هغۀ چا وي چې هغوئي يې پۀ تاسو باندې مهربان کړل! هيڅکله هيڅکله به يوه مور پۀ خپل خوږ يو ځوي باندې چرې هم دومره مهربان نه وي لکه څنګه چې هغۀ پۀ خپل يو اُمَّتي باندې مهربانه دے- (فتاوىٰ رضويه، 29/583 تسهيلاً)

مومن ہوں مومنوں پہ رؤف رحیم ہو
سائل ہوں سائلوں کو خوشی لَانَہر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص212)

**شرحِ کلامِ رضا:** يا رسولَ الله! اے زما آقا! اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! زۀ مؤمِن يم او ستاسو رَبّ پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائيلي دي چې تاسو پۀ مؤمِنانو باندې رؤف او رحيم يعني بے حده مهربانه او رحمت کوونکي يئ لهٰذا پۀ ما باندې ډير لُطف او رحمت وفرمايئ، زۀ ستاسو د دَر سوالګيرے يم او سوالګيرے رَټل ستاسو شان نه دے-

گھر آمنہ کے چلو چل کے عرض کرتے ہیں
ہمیں ہو بھیک عنایت نبی کی آمد ہے

نہ مانگنے میں کَسر سائلو کوئی رکھنا
جو چاہو مانگ لو نِعمت نبی کی آمد ہے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## آئيډيل رول ماډل

**اے د میلادِ مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په دُنیا کښې چې څوک په مونږ باندې لږ شان شفقت هم وکړي نو مونږ د هغوئي احسان مند یو خو د بي بي آمنه رضی اللّٰہ عنہا د زړۀ د ټوټې صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې په مونږ باندې څومره احسانونه دي هغه بے حده او بے شماره دي، مونږ له پکار دي چې د هغوئي سُنَّت اختیار کړو، د هغوئي په مبارکو فرامینو باندې عمل وکړو، د کومې خبرې او کوم کار نه چې رسولِ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږه منع کړي یو د هغه کار نه مونږ منع شو- کاش! کاش! کاش!

اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په خپل یو کلام کښې ډیر په ښکلي انداز کښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې فریاد او د رسولِ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت د پاره بے حده محبت بیان کړے دے چې مونږ هم خپل حال ته لږ نظر وکړو او وګورو چې شفیق او مهربانه، د رحمت والا آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دومره عنایاتو باندې مونږ په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې څۀ وړاندې کوو-

| | |
|---|---|
| مصطفٰی خیرُ الوَریٰ ہو | سرورِ ہر دو سَرا ہو |
| اپنے اَچھّوں کا تَصَدُّق | ہم بَدوں کو بھی نِباہو |
| کس کے پھر ہو کر رہیں ہم | گر تمہیں ہم کو نہ چاہو |
| بد ہنسیں تم اُن کی خاطر | رات بھر رُوؤ کَراہو |
| بد کریں ہر دَم بُرائی | تم کہوان کا بَھلا ہو |
| ہم وہی شایانِ رَد ہیں | تم وہی شانِ سَخا ہو |
| ہم وہی بے شرم وبد ہیں | تم وہی کانِ حیا ہو |
| ہم وہی قابل سزا کے | تم وہی رحمِ خدا ہو |
| عمر بھر تو یاد رکھا | وقت پر کیا بھولنا ہو |
| وقتِ پیدائش نہ بھولے | کَیْفَ یَنْسٰی کیوں قضا ہو |
| یہ بھی مولیٰ عرض کردوں | بھول اگر جاؤ تو کیا ہو |

وہ ہو جو تم پر گراں ہے
وہ ہو جو ہر گز نہ چاہو
وہ ہو جس کا نام لیتے
دشمنوں کا دل بُرا ہو
وہ ہو جس کے رَد کی خاطر
رات دن وَقفِ دُعا ہو
مر مِٹیں برباد بندے
خانہ آباد آگ کا ہو
شاد ہو اِبلیس مَلعُوں
غم کسے اس قہر کا ہو
تم کو ہو وَاللہ تم کو
جان و دل تم پر فدا ہو
تم کو غم سے حق بچائے
غم عَدُوّ کو جاں گزا ہو
کیوں رضاؔ مشکل سے ڈریئے
جب نبی مشکل کشا ہو

(حدائق بخشش، ص 339 تا 340)

کاش چې زمونږه کرځيدل، ناسته پاسته، خوراک څښاک، جامې، غرض دا چې هر کار د سُنَّت مطابق شي او مونږ هر وخت د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ياد کښې ورک شو-

جو نہ بھولا ہم غریبوں کو رضا
یاد اس کی اپنی عادت کیجئے

(حدائقِ بخشش، ص 198)

## زيرے ورکوونکے او ويروونکے

**اے د ميلاد عاشقانو!** الله ربُّ العِزّت په 22 سيپاره، سورۂ سَبا، آيت نمبر: 28 کښې ارشاد فرمائي: ﴿وَ مَاۤ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا وَّ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾﴾

ترجمه: او اے حبيبه! مونږه تۀ ټولو خلقو ته زيرے ورکوونکے او ويره اورروونکے ليږلے يې خو ډير خلق نه پوهيږي -

## ټول کائنات د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت دے

حضرت علامه مولانا مفتي سيِّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د خزائنُ العِرفان په صفحه نمبر: 798 باندې فرمائي: د دې مبارک آيت نه معلومه شوه چې د حضور سيدِ عالَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رسالت د ټولو د پاره دے، ټول انسانان په دې کښې راځي، که

ښائسته وي او که بد رنګه، عربي وي او که عجمي، مخکښې راغلي وي او که وروستو د ټولو د پاره هغوئي رسول دے او هغه ټول د هغوئي اُمَّتيان دي۔

(تفسير خزائن العرفان، ص776)

## د ټولو آقا د ټولو رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د بخاري او مسلم يو حديثِ پاک دے: سيدِ عالَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ما ته پينځه خيزونه داسې راعطا کړے شول کوم چې زما نه مخکښې بَل يو نبي ته هُم نه دي ورکړے شوي، پۀ هغې کښې يو خاصيت دا دے چې نور انبيائے کرام (عليهم السّلام) به خاص د خپل قوم طرف ته ليږلے شول او زۀ د ټولو انسانانو طرف ته وليږلے شوم۔ (بخاری، 133/1، حديث:335 ملتقطاً)

شارحِ بخاري، حضرت مفتي شريفُ الحق امجدي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: بعثِ عامه (يعني د هر يو طرف ته د ليږلو) مطلب دا دے چې حضورِ اَقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخکښينو انبيائے کرامو (علَيهِمُ السَّلام) په شان د يو قوم، علاقې، ملک يا زمانې سره خاص نه دے، د حضورِ اَقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نبوت او رسالت د ټول جهان د پاره کوم چې د ظاهري ژوند پۀ وخت پۀ دُنيا کښې موجود وو د هغوئي د پاره هم او د مخکښينو د پاره هم او تر قيامته پورې چې به څومره پيدا کيږي د ټولو د پاره دے، که هغه انسانان وي، که پيريان وي، که فرښتے وي، بلکې د اللّٰه پاک نه علاوه د ټولو موجوداتو د پاره دے۔

(نزہۃ القاری، 842/1 ملخصاً)

يعني زما د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نبوت د څۀ خاص سيمې، خاص علاقې يا مُلک د پاره نۀ دے بلکې د ټول کائنات د پاره دے تر دې چې د انسانانو، پيريانو، فرښتو، څناورو، جماداتو، نباتاتو، ونو، بوټو، کاڼو ټولو د پاره زما خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رسول دے۔

سارے رسولوں سے تم بَرتَر | تم سارے نبیوں کے سَرور
سب سے بہتر اُمت والے | صَلَّی اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ وَسَلَّم صَلَّی اللّٰہ صَلَّی اللّٰہ

(سامانِ بخشش، ص102)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ټول اُمَّت نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**اے د میلادِ مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د بے مثاله نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول کائنات د پاره د نبي جوړیدلو سره د تشریف راوړلو بیان په قرآنِ کریم کښې په یو بَل ځائے کښې څۀ داسې شوے دے- په 9 سیپاره، سورة الْاَعْراف، آیت نمبر: 158 کښې ارشاد دے: ﴿قُلْ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَیْكُمْ جَمِیْعَاۨ﴾ ترجمه: ته وفرمایه: اے خلقو! زۀ ستاسو ټولو طرف ته د الله رسول یم-

تقریباً اووه نیم سوه کاله مخکښې تیر شوے بزرګ حضرت اِمام بَیضاوي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: دا آیت مبارک د دې خبرې دلیل دے چې د مکې مدینے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول جنّ و اِنس یعنې پیریانو او انسانانو طرف ته د رسول رالیږلے شوے دے او نور رُسُلِ عِظام (یعنې نور رسولان) صرف د هغوئي خپل قوم طرف ته ولیږلے شول-

(تفسیر بیضاوی، پ9، الاعراف، تحت الآیة: 158، 3/65)

د مسلم شریف په حدیث کښې ارشاد وشو "اُرْسِلْتُ اِلَی الْخَلْقِ كَافَّةً" زۀ (د الله پاک) د ټول مخلوق طرف ته ( رسول ) رالیږلے شوے یم- (مسلم، ص210، حدیث: 1167)

زما خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول مخلوق طرف ته د الله رسول دے دا شرف بل یو نبي ته نه دے عطا کړے شوے دا صرف د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاصیت دے-

## د پیریانو او انسانانو نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

حضرت شیخ عبدُ الحق مُحدِّثِ دِهلوي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو پیریانو او انسانانو طرف ته راولیږلے شو ځکه هغوئي ته "رسولُ الثَّقَلین" وئیلے شي- د پیریانو د هغوئي دربار ته حاضریدل، د هغوئي ایمان راوړل بیا د خپل قوم طرف ته واپس ګرځیدل او هغوئي ته د اِسلام دعوت ورکول په قرآنِ کریم کښې موجود دي- د اکثرو علمائے کرامو په نزد د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جنّ او اِنس یعنې د پیریانو او انسانو طرف ته مبعوث کیدل هم د هغوئي خاصیت دے او د بعضې تحقیق کوونکو علمائے کرامو په نزد د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بِعثت یعنې لیږلے کیدل د ټول اَجزائے عالَم

يعني د دُنيا د هرې يوې حصې، د هر يو څيز او هر قِسمه موجوداتو د پاره دي که هغه نباتات او جمادات دي او که څناور، هغوئي د موجوداتو د ټولو ذرو او د ټول کائنات مکمل کوونکي او تربيت کوونکي دي- (تکميل الايمان، ص127،128)

تُو ہے خورشیدِ رسالت پیارے چُھپ گئے تیری ضِیا میں تارے
اَنبیا اور ہیں سب مہ پارے تجھ سے ہی نُور لیا کرتے ہیں
(حدائقِ بخشش، ص112)

**شرحِ کلامِ رضا:** يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تاسو د رسالت هُغه نمر يئ چې کله ستاسو رڼا راغله نو ټول ستورې پټ شول، اوس به د ټولو مخکښينو انبيائے کرامو عليهِمُ السّلام د شريعتونو په حکمونو باندې عمل نه کيږي بلکې اوس چې څۀ سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي، د هغوئي په وئيلو باندې به عمل کيږي او اوس په دوئي باندې ايمان راوړل شرط شو که چرې په دوئي باندې ايمان نه راوړي نو مسلمان به نه وي، داسې ټولو نبيانو هم ستاسو نه نُور حاصل کړو-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هر څيز د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رسالت پيژني

په حديثِ پاک کښې دي: هيڅ څيز داسې نشته کوم چې ما د الله پاک رسول نه پيژني علاوه د بے ايمانه پيريانو او انسانانو نه- (معجم کبير، 262/22، حديث:672)

کومو پيريانو او انسانانو چې ايمان نه دے راوړے هغوئي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پيژني باقي ټول مخلوق يې پيژني-

الله دې کړي چې د سيکنډ په کروړمه حصه کښې هم داسې وخت رانشي چې مونږه د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيژندلو او منلو نه محرومه پاتې شو-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: يو يو روحانيت خو د هر يو نبات، هر يو جَماد پهٔ باره کښې دے که هغې ته د هغه رُوح ووئيلے شي او که بَل څهٔ، هغه مُکلَّف دے د ايمان او تسبيح سره- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص532)

يعنې هره يوه وَنه، کاڼے، غر پهٔ خپله ژبه کښې تسبيح هم لولي، د خپل خپل حيثيت مطابق ايمان هم لري-

## د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د غرونو خبرې اترې

چې کله د اِسلام د شروع دور وو، هُغه وخت يو غير مسلمه زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير سخت دښمن وو- حضورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف وړلو، پهٔ لاره کښې يــې يو غر ته د تشريف وړلو اراده وفرمائيله، د غر نه اواز راغلو: حضور! پهٔ ما باندې تشريف مهٔ راوړئ چې پهٔ ما باندې د امن هيڅ ځائے نشته، زهٔ ويريږم که چرې کافرانو حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پهٔ ما باندې وموندلو او ضرر يــې وررسولو نو الله پاک به پهٔ ما باندې [داسې] سخت عذاب نازل کړي چې چرې به يــې نه وي نازل کړے- مخامخ بَل غر وو هغه اواز وکړو " اِلَيَّ يَارَسُوْلَ الله"، يا رسولَ الله! زما طرف ته تشريف راوړئ-" سرکار (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) هلته تشريف يوړلو-

(شرح الزرقانی علی مواهب اللدنيه، 512/6۔ ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص533)

اُن پر دُرود جن کو حَجَر تک کریں سلام
ان پر سلام جن کو تحیّت شَجَر کی ہے

جِنّ و بَشَر سلام کو حاضر ہیں اَلسَّلام
یہ بارگاہ مالکِ جِنّ و بَشَر کی ہے

سب بَحْر و بَر سلام کو حاضر ہیں اَلسَّلام
تَمْلِیک اِنہیں کے نام تو ہر بَحْر و بَر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص209)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## صرف هم حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رَحمةٌلِّلعَالَمِين دے

د زمانې غزالي، حضرت علّامه مولانا سيد احمد سعيد کاظمي شاه صاحب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: رَحمةٌلِّلعَالَمِين کيدل د حضور نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاص صفت دے، د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه علاوه څوک "رَحمةٌلِّلعَالَمِين" نشي کيدے، چې د (حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) رسالت د ټول مخلوق د پاره عام دے نو رحمت هم د ټولو جهانونو د پاره عام او د الله نه علاوه د هرې ذرې د پاره وتاکلے شو۔ وَلِلّٰہِ الْحَمْد! (مقالاتِ کاظمی 99/1 ملتقطاً)

## په حضرت جبرائيل عَلَیْہِ السَّلَام باندې د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رحمت

په حديث شريف کښې دي چې حضور سرورِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جبريل عَلَیْہِ السَّلَام نه پوښتنه وکړه چې تاسو ته زما د رحمت نه څۀ نصيب شول؟ هغوئي عرض وکړو: سرکار! ستاسو لطف او کرم زما بخت رابيدار کړو ګني نو زۀ د خاتمې او د خپل انجام نه د مودې نه حيران ووم خو چې څنګه مې ستاسو د غلامۍ شرف نصيب شو او دا آيت مبارک "﴿ذِیۡ قُوَّۃٍ عِنۡدَ ذِی الۡعَرۡشِ مَکِیۡنٍ ﴿۲۰﴾ مُّطَاعٍ ثَمَّ اَمِیۡنٍ ﴿۲۱﴾﴾ ترجمه: کوم چې قُوَّت والا دے، د عرش د مالک په نزد عِزَّت والا دے۔ هلته د هغۀ حکم منلے کيږي، امانت دار دے۔

(پ30، التکویر: 20،21)

(چې کله) نازل شو او الله پاک زما تعريف وکړو نو ستاسو په برکت زما مکمل اطمينان نصيب شو۔ (تفسیر بحر العلوم للسمرقندی، پ17، الانبیآء، تحت الآیۃ: 382/2،107)

ازل میں نعمتیں تقسیم کیں جب حق تعالیٰ نے
لکھی جبریل کی تقدیر میں خدمتِ محمد کی

(قبالۂ بخشش، ص258)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ هر ځائے کښې يې اُمَّت ياد وساتلو

مشهور مفسر حضرت علامه مولانا شيخ اسماعيل حقي رَحمَۃُاللہِعَلَیْہ ليکي: د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ رحمت کښې يو دا دے چې هغوئي خپل اُمَّت پهٔ هر ځائے کښې ياد وساتلو، چې پهٔ مکه مکرمه کښې وو نو هم ورته اُمَّت ياد وو، چې مدينے منورې ته يې تشريف يوړلو نو هم يې اُمَّت هير نکړلو، مسجدِ نبوي ته چې ورسيدلو نو هم، پهٔ حجره مبارکه کښې چې تشريف فرما شو نو هم، د عرش نه د تيريدلو سره د "قاب قَوسَين" پهٔ شان پهٔ اوچت مقام کښې يې هم اُمَّت ياد کړو-

(تفسير روح البيان، پ17، الانبيآء، تحت الآية: 107، 5/527)

جو نہ بُھولا ہم غریبوں کو رضا  یاد اس کی اپنی عادت کیجئے

(حدائقِ بخشش ص198)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## قرآنِ کريم او نُورِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

الله ربُّ العِزَّت پهٔ 6 سيپاره سورة النِّساء، آيت نمبر: 174 کښې ارشاد فرمائي: ﴿يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ اَنْزَلْنَاۤ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا﴾ ترجمه: اے خلقو! بے شکه تاسو له ستاسو د رَب له طرفه واضحه دليل راغلو او مونږه ستاسو طرف ته روښانه نُور نازل کړو-

اے د ميلاد عاشقانو! د نُور والا آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور کيدلو بيان پهٔ قرآنِ کريم کښې پهٔ يو بَل ځائے کښې څهٔ داسې دے: پهٔ 6 سيپاره، سورهٔ مائده، آيت نمبر: 15 کښې ارشاد دے: ﴿قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ﴾ (پ6، المآئدہ:15) ترجمه: بے شکه تاسو ته د الله له طرفه يو نُور راغلو او يو روښانه کتاب-

د نن نه تقريباً يو زر کاله مخکښې تير شوے بزرګ حضرت امام ابُو الحَسَن علي بن احمد وَاحِدي نيشاپوري شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (وفات: 468ھ) فرمائي: پهٔ دې آيت مبارک کښې د نُور نه مُراد د الله پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے ځکه چې نبيِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تول څيزونه روښانه کړل۔

دغه شان تقريباً 700 کاله مخکښې تير شوے مشهور مُفَسِّر حضرت امام علاءُ الدِّين علي بن محمد خازِن رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (وفات: 741ھ) د دې آيت لاندې پهٔ تفسير خازن کښې ليکي: د نُور نه مُراد مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، الله پاک د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم "نُور" ځکه کيښودلو چې د نبيِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ذريعه هدايت حاصليږي لکه څنګه چې پهٔ تيارهٔ کښې د رڼا پهٔ ذريعه لاره لټولے شي۔

(تفسير خازن، پ6، المائدة، تحت الآية: 15، 1/477)

چھٹ گئے ظُلمت کے بادَل دُور اندھیرا ہو گیا | نور والا آگیا صلِّ علیٰ خوش آمدید
بھر دو سینے میں سُرور اور آنکھ کر دو نور نور | دل مرا دو جگمگا صلِّ علیٰ خوش آمدید

(وسائلِ بخشش ص213212 ملتقطاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## صرف نُور نهٔ دے بلکې د نورونو هم نُور دے

علامه سيِّد محمود آلوسي بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ مشهور تفسير "روحُ المَعاني" کښې د دې آيت لاندې ليکي: "وَهُوَنُوْرُ الْاَنْوَارِ وَالنَّبِيُّ الْمُخْتَارُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ" د دې نُور نه مراد د ټولو نُورونو د نُور، نبيِ مختار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذات مبارک دے۔

(تفسير روح المعانى، پ6، المائدة، تحت الآية: 15، 5/367)

## د نُور راتلل! مرحبا

د امام بخاري او د امام مُسلم د استاذ هم استاذ امام عبدُ الرَّزَّاق رَحمَۃُاللهِعَلَیْه د صحابيِ رسول حضرت جابر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې ما د رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه وکړه چې الله پاک د ټولو نه وړومبے کوم څیز پیدا کړو؟ ارشاد يې وفرمائیلو "اے جابره! هغه ستا د نبي نُور دے کوم چې الله پاک پیدا کړلو-"

(الجزء المفقود من المصنف عبد الرزاق، ص 6463، حدیث: 18)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د آیت مبارک او حدیثِ پاک نه د نُور والا آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور او پر نُور کیدل بیان شول- اوس مونږه پۀ خوشحالی سره او پۀ شریکه ولې اونه وایو:

نور والا آیا ہے ہاں نور لیکر آیا ہے
سارے عالم میں یہ دیکھو نور کیسا چھایا ہے


چار جانب روشنی ہے سب سماں ہے نور نور
حق نے پیدا آج اپنے پیارے کو فرمایا ہے

آؤ آؤ نور کی خیرات لینے کو چلیں
نور والا آمنہ بی بی کے گھر میں آیا ہے

آگے پیچھے دائیں بائیں نور ہے چاروں طرف
آگیا ہے نور والا، نور والا آیا ہے

(وسائلِ بخشش ص 460)

# د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net